سپین غر
د لوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار)
Spinghar Institute of Higher Education (Nangarhar)



# طبي ټکنالوژي پوهنځی

## Faculty of Medical Technology

## د طبي ټکنالوژي پوهنځي لنډه تاریخچه او پېژندنه

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د طبي ټکنالوژي پوهنځی په (۱۵/حمل/۱۳۹۰) نېټه د لوړو زده کړو وزارت سره رسماً ثبت او تأسیس شو.

د یاد پوهنځي ټولې تدریسي، اداري او څېړنیزې چارې د پوهنځي د رئیس، مرستیال، عمومي ډیپارټمنټ، پارا کلینیک برخې او تدریسي مدیریت ترڅنګ اته ګونو (کیفیت لوړونې، تحصیلي نصاب، علمي څېړنو، ازموینو او نتایجو، نظم او ډسپلین ، فرهنګي چارو، برېښنایي زده کړو او پلان او پالیسی) کمېټو له لوري پرمخ وړل کېږي.

یاد پوهنځی د طبي ټکنالوژي په برخه کې د کادري او باتجربه تدریسي او اداري پرسونل، د مسلکي مضامینو اړوند یوولس تطبیقاتي لابراتوارونو، د عملي زده کړو لپاره معیاري تدریسي روغتون، عصري تدریسي خونو او نورو ګڼو اسانتیاو په لرلو سره په مسلکي، اخلاقي، علمي او معیاري ډول محصلین روزي او د روغتیایي خدماتو په موخه یې ټولنې ته وړاندې کوي.

همدارنګه د طبي ټکنالوژي پوهنځي خپل درسي بهیر په کریډیټ سیستم برابر کړی او د لوړو زده کړو وزارت د قوانینو، مقرراتو، لوایحو او پالیسیو په رڼا کې، د معیاري درسي نصاب په لرلو سره، محصلینو ته تحصیلي خدمات وړاندې کوي.

د طبي ټکنالوژي پوهنځي د ستراتېژیکو موخو ترلاسه کولو لپاره پینځه کلن ستراتېژیک پلان لري، چې ټول اداري اوتدریسي فعالیتونه یې د یاد پلان له مخې ترتیب او تنظیمېږي.

د طبي ټکنالوژي پوهنځی غواړي چې د غوره نظري-عملي تدریس او علمي څېړنو له لارې ټولنې ته داسې فارغان وړاندې کړي، چې د ناروغیو تشخیص یې د هېواد او سیمې په کچه د باور وړ وي.

طبي ټکنالوژي پوهنځی د معیاري تحصیلي نصاب، غوره تدریس، څېړنو، مجهزو لابرتوارونو او مسلکي استادانو پرمټ داسې طبي ټکنالوجېستان روزي، چې په ملي او سیمه ایزه کچه د طبي لابراتوار تشخیصیه اړتیاو پوره کولو وړتیا لري.

**د طبي لوړو زده کړو معیاري اداره**

**A Standard Institution of Higher Education in Medical Sciences**

# د عمومي (کلینیک) ډیپارټمنټ

# لرلید، ماموریت او ستراتیژیک اهداف

## لرلید

د طبي ټکنالوژي پوهنځي عمومي ډیپارټمنټ غواړي چې د نظري، عملي تدریس او علمي څېړنو په مرسته داسې طبي ټکنالوجیســــتان وروزي، چې د ناروغیو تشـــــخیص په معیـــــاري لابراتواري پروسېجرونو سره ترسره کړای شي.

## ماموریت

د طبي ټکنالوژي پوهنځي عمومي ډیپارټمنټ د معیـاري تحصیلي نصـــاب، څېړنــې، تدریــس، عملـــي‌زده کړو او مجـــربو استادانو پر مـــټ، داسي ټکنالوجیستان ټولنې ته وړاندې کوي چې د عامې روغتیا سکتور تشخیصیـــه اړتیاوې پوره کړای شي.



## اهـداف

- د استادانو او محصلینو ظرفیت لوړونه.
- د ناروغیو په تشخیص کې د لابراتواري ازمایښتونو د اساساتو پېژندنه.
- د محصلینو مسلکي مهارتونو لوړولو په موخه، د لابراتواري تجهیزاتو او معلوماتي ټکنالوژیکي وسایلو کارونه.
- په لابراتواري پروسیجرونو کې د کیفیت کنټرول په اهمیـت او کارونـه باندې د محصلینو پوهونه.
- محصلینو ته د نمونې اخیستلو غوره او معیـاري مېتــودونو ورپېــژندنه.
- محصلینو ته د طبي لابراتوار کاري اصولو ورپېژندنه.
- محصلینو ته د څېړنو پر بنسټ د نویو لابراتواري پروسیجرونو ښـودنه.
- د محصلینو مسلکي اخلاقي کړنو ته وده ورکول او پــه ټولو لابراتــواري فعالیتونو کې محرمیت ساتل.
- د تدریس،تحقیق او نوښتونو پر مټ د ټکنالوجیستانو روغتیایي پاملرنو خدماتو کیفیت لوړاوی.
- د محصلینو تر منځ د اسلامي اخلاقي معیـــارونو او مسلکیتـــوب وده او پراختیا.
- د لابراتواري موندنو په تحلیل او تجزیه کې د محصلینو وړتیاوې لوړول.
- د استادانو پر مټ د تحصیلي نصاب مطابق د معیـاري درسـي مـوادو ترتیبول.

## اسانتیاوې

